ژورنال بین المللی پوهنتون تخار

نویسنده مسؤل: شکرالله دولت زی
تاریخ دریافت: ۱۴۰۵/ ۴/ ۲۴
تاریخ قبول: ۱۴۰۵/ ٦/ ۲۸
تاریخ نشر:

Research Article

# د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو پر زده کوونکو د اصول صنفی دفعالو تدریسی میتودونو اغیزی

شکرالله دولت زی او عبدالباری ملنګ د کابل ښوونې او روزنې ماسترۍ برنامې محصل
shakrullah.dawlatzai76@gmail.com
ORCED: https://orcid.org/0009-0004-2795-459X

## لنډیز

اوسنۍ څېړنه د موسهي ولسوالۍ د لیسو د ابتدائیه ښوونځیو پر زده‌کوونکو د صنفي اصولو پر بنسټ د فعالو تدریسي میتودونو د اغېزو د ارزونې په **موخه** ترسره شوې ده. د څېړنې موخه د دغو میتودونو د اغېزو ارزول د زده‌کوونکو پر علمي پوهه، ښوونیزه ښکېلتیا، ټولنیزو مهارتونو او د زده‌کړې پر کیفیت وو. څېړنه د موخې له مخې کاربردي، د میتود له مخې **توصیفي پیمایشي** او د معلوماتو له مخې کمي ده. احصایوي ټولنه د موسهي ولسوالۍ د لیسو د ابتدائیه ښوونځیو ښوونکي وو او معلومات د څېړونکي له خوا د جوړ شوي پوښتنلیک له لارې راټول او د SPSS 24 سافټویر په مرسته تحلیل شول. د **موندنو** له مخې، د فعالو تدریسي میتودونو د تطبیق کیفیت(M=4.12) د زده‌کوونکو ښوونیزه ښکېلتیا(M=4.05) د ښوونکو تدریسي وړتیا (M=4.15) او د زده‌کړې پر کیفیت اغېز (M=4.10) ټول له منځنۍ کچې څخه لوړ وو. همدارنګه ګروپي فعالیتونه، صنفي بحثونه او عملي زده‌کړه د زده‌کوونکو د علمي لاسته راوړنو، ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ په پیاوړتیا کې اغېزمن ثابت شول، خو د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت، د تدریسي امکاناتو محدودیت او د وخت نشتوالی د دغو میتودونو د اغېزمن تطبیق مهم خنډونه وپېژندل شول. په **پایله** کې، د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د زده‌کړې د کیفیت د لوړولو لپاره اغېزمنه تګلاره ده او د ښوونکو د ظرفیت لوړول او د تدریسي امکاناتو پراختیا د هغې د بریالي پلي کېدو لپاره اړین دي.

**ځانګړي کلمې:** ابتدائیه ښوونځي، فعال تدریسي میتودونه، ټولنیز مهارتونه، د زده‌کړې کیفیت، علمي پرمختګ، ښوونیزه ښکېلتیا، صنفي اصول.

**The Effects of Active Teaching Methods Based on Classroom Management Principles on Students of Primary Schools in Musahi District**

Shakrullah DawlatZai Abdul Bari Malang

**Abstract**

The present study was conducted to evaluate the effects of classroom principles-based active teaching methods on primary school students in Musahi District high schools. The study aimed to examine the impact of these methods on students' academic achievement, classroom engagement, social skills, and learning quality. This research was applied in purpose, descriptive-survey in method, and quantitative in approach. The statistical population consisted of primary school teachers in Musahi District high schools. Data were collected using a researcher-developed questionnaire and analyzed using SPSS version 24.

The findings indicated that the quality of implementing active teaching methods (M = 4.12), students' classroom engagement (M = 4.05), teachers' instructional competence (M = 4.15), and the impact on learning quality (M = 4.10) were all above the average level. Furthermore, group activities, classroom discussions, and practical learning significantly enhanced students' academic achievement, social skills, and collaborative abilities. However, insufficient professional training for teachers, limited instructional resources, and time constraints were identified as major challenges to the effective implementation of active teaching methods.

In conclusion, classroom principles-based active teaching is an effective instructional approach for improving the quality of learning. Therefore, strengthening teachers' professional capacity and providing adequate instructional resources are essential for the successful implementation of these teaching methods.

**Keywords:** Academic Progress, Active Teaching Methods, Classroom Rules, Educational Engagement, Learning Quality, Primary Schools, Social Skills.

**د موسهي ولسوالی د ابتدائیه ښوونځیو پر زده کوونکو د اصول صنفی دفعالو تدریسی میتودونو اغیزی**

شکرالله دولت زی او عبدالباری ملنګ



**سریزه**

اَلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَىٰ أَشْرَفِ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِينَ، نَبِيِّنَا وَرَسُولِنَا مُحَمَّدٍ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَصَحْبِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ، أَمَّا بَعْدُ.

د تدریس میتود د اسلامي شریعت سره ژور تړاو لري؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت ستر معلم او روزونکی و. هغه مبارک د حکمت، نرمۍ، عملي نمونې، پوښتنې او ځواب، تمثیل او تدریجي ښوونې له لارې صحابه کرامو ته علم ورکاوه. د هغه د تدریس موخه یوازې د معلوماتو لېږد نه، بلکې د اخلاقو اصلاح، د فکر روزنه او د علم عملي کول هم وو. له همدې امله، د نبوي تدریس د میتودونو څېړنه د معاصرې ښوونې لپاره مهم شرعي او علمي بنسټ برابروي.

په معاصره ښوونه او روزنه کې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د علمي پوهې، انتقادي تفکر، عملي مهارتونو او ټولنیزو وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره د اغېزمنې تدریسي تګلارې په توګه پېژندل کېږي (احمدزی، ۱۴۰۲). دا میتودونه زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهیر کې له منفعل حالت څخه فعال ګډون ته هڅوي او د ګروپي فعالیتونو، صنفي بحثونو، ستونزو حلولو او عملي زده‌کړې له لارې د هغوی د زده‌کړې کیفیت لوړوي. له همدې امله، په معاصرو ښوونیزو نظامونو کې د فعالو تدریسي میتودونو پلي کول د تدریس د کیفیت د ښه والي له مهمو شاخصونو څخه ګڼل کېږي. سره له دې د افغانستان په ډېری ښوونځیو، په ځانګړې ډول د موسهي ولسوالی په ابتدائیه ښوونځیو کې لا هم دودیز تدریسي میتودونه تر ډېره کارول کېږي، چې په هغو کې زده‌کوونکي محدود رول لري او تدریس تر ډېره د ښوونکي پر وینا او د معلوماتو پر انتقال ولاړ وي. دا وضعیت د زده‌کوونکو د علمي لاسته راوړنو، ښوونیزې ښکېلتیا او ټولنیزو مهارتونو د ودې پر بهیر منفي اغېز کوي (کریمي، ۱۴۰۱). پخوانیو څېړنو ښودلې چې د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د زده‌کوونکو د علمي پرمختګ، د زده‌کړې د کیفیت، د همکارۍ د روحیې او د ستونزو د حل د وړتیا په لوړولو کې اغېزمن رول لري (سلطاني، ۱۴۰۱؛ بهاري، ۲۰۱۹؛ Rahman et al., 2021). سره له دې د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو په کچه د دغو میتودونو د اغېزو په اړه علمي او سیمه‌ییزې څېړنې محدودې دي، چې دا د لا زیاتو علمي شواهدو اړتیا څرګندوي.

له همدې امله د دې څېړنې موخه د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو د زده‌کوونکو پر علمي پوهه، ښوونیزه ښکېلتیا، ټولنیزو مهارتونو او د زده‌کړې پر کیفیت د صنفي اصولو پر بنسټ د فعالو تدریسي میتودونو د اغېزو ارزونه ده. تمه کېږي چې د دې څېړنې موندنې د ښوونکو، د ښوونځیو د ادارو، د پوهنې وزارت او د تعلیمي پالیسۍ جوړوونکو لپاره د فعالو تدریسي میتودونو د پراختیا او د تدریس د کیفیت د ښه والي په برخه کې د باور وړ علمي بنسټ برابر کړي او د راتلونکو څېړنو لپاره هم ګټورې سرچینې وګرځي.

**د ستونزې بیان**

په وروستیو کلونو کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د علمي پرمختګ، ښوونیزې ښکېلتیا او ټولنیزو مهارتونو د پیاوړتیا لپاره د اغېزمنې تدریسي تګلارې په توګه پېژندل شوي دي. سره له دې، د موسهي ولسوالۍ په ډېری ابتدائیه ښوونځیو کې لا هم دودیز تدریسي میتودونه کارول کېږي، چې په هغو کې زده‌کوونکي تر ډېره د معلوماتو د اورېدو او حفظ کولو محدود رول لري. دا ډول تدریس د زده‌کوونکو د انتقادي تفکر، ستونزو حلولو، عملي مهارتونو او ټولنیزو اړیکو د ودې لپاره کافي زمینه نه برابروي (احمدزی، ۱۴۰۲).

پخوانیو څېړنو څرګنده کړې چې د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت، ښوونیزې ښکېلتیا او ټولنیزو مهارتونو په لوړولو کې د پام وړ اغېز لري (کریمي، ۱۴۰۱؛ سلطاني، ۱۴۰۱؛ .(Rahman et al., 2021 خو د موسهي ولسوالۍ په ابتدائیه ښوونځیو کې د دغو تدریسي میتودونو د پلي کېدو کچه لا هم محدوده ده. د دې وضعیت مهم لاملونه د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت، د فعالو تدریسي میتودونو سره محدود آشنایي، د تدریسي امکاناتو نشتوالی او د ښوونځیو د اداري ملاتړ کمزوري ګڼل کېږي (بهاري، ۲۰۱۹). د یادو ستونزو له امله زده‌کوونکي د ګروپي فعالیتونو، صنفي بحثونو، عملي زده‌کړې او مشارکتي تدریس په برخه کې لږ فرصتونه ترلاسه کوي، چې دا حالت د هغوی پر علمي لاسته راوړنو، د زده‌کړې پر کیفیت او د ټولنیزو مهارتونو پر وده منفي اغېز کوي.(Rahman et al., 2021)

له همدې امله، د دې څېړنې اساسي ستونزه دا ده چې د موسهي ولسوالۍ په ابتدائیه ښوونځیو کې د صنفي اصولو پر بنسټ د فعالو تدریسي میتودونو د اغېز په اړه کافي علمي شواهد او سیمه‌ییزې

څېړنې شتون نه لري. له همدې کبله، دا څېړنه هڅه کوي د فعالو تدریسي میتودونو اغېز د زده‌کوونکو پر علمي پوهه، ښوونیزه ښکېلتیا، ټولنیزو مهارتونو او د زده‌کړې پر کیفیت وارزوي، ترڅو د موندنو پر بنسټ د تدریس د کیفیت د ښه والي لپاره عملي او علمي وړاندیزونه وړاندې شي.

## د څېړنې اهمیت او ضرورت

په معاصره تعلیمي څېړنو کې څرګنده شوې چې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د پوهې، مهارتونو، او ټولنیزو وړتیاوو په پراختیا کې مهم رول لري (Rahman, Ali, & Khan, 2021). په افغانستان کې، په ځانګړي ډول په موسهي ولسوالی کې د ابتدائیه ښوونځیو ډیری ښوونکي لا هم د دودیزو میتودونو په کارولو تکیه کوي، چې زده‌کوونکي په فعاله توګه په زده‌کړه کې ښکېل نه کوي او د زده‌کړې کیفیت اغېزمنوي(احمدزی، ۱۴۰۲).د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس زده‌کوونکو ته فرصت ورکوي چې د ښوونکي د لیکچر اورېدو پر ځای په عملي فعالیتونو، ګروپي بحثونو، او ستونزو د حل تمرینونو کې برخه واخلي، چې په پایله کې د زده‌کړې پایلې، د زده‌کوونکو نوښت او د ټولګیو د چاپېریال کیفیت ښه کېږي (کریمي، ۱۴۰۱). دغه څېړنه د لاندې دلیلونو له مخې اهمیت لري: د زده‌کوونکو ښوونیزو پایلو ښه کول، چې د نوو تدریسي میتودونو په کارولو سره د پوهې ژوروالی او د ستونزو د حل وړتیا لوړوي (سلطانی، ۱۴۰۱). د ښوونکو مسلکي پرمختګ، ځکه چې د فعالو تدریسي میتودونو پلي کول ښوونکو ته د نوو مهارتونو زده‌کړې فرصت برابروي (بهاری، ۲۰۱۹). د ښوونځي د ټولګیز مدیریت او کیفیت لوړول، ځکه چې فعال تدریس د زده‌کوونکو ښکېلتیا زیاتوي او د ښوونې چاپېریال مثبتوي.(Shrestha & Bajracharya, 2020) د تعلیمي پالیسۍ جوړوونکو لپاره علمي او عملي لارښوونې وړاندې کوي، ترڅو په نورو ښوونځیو کې هم دغه میتودونه اغېزناک پلي شي.(Rahman, Ali, & Khan, 2021) په ټوله کې دا څېړنه د موسهي ولسوالی د ابتدائیه ښوونځیو زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت لوړولو، د ښوونکو مسلکي وړتیاوو پراختیا، او د فعالو تدریسي میتودونو د اغېزناکتیا د ارزونې لپاره حیاتي اهمیت لري.

**د څېړنې موخې**

**عمومي موخه:** د څېړنې عمومي هدف دا دی چې معلومه کړي څنګه د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو زده‌کوونکو په پوهه، ښکېلتیا، او ټولنیزو مهارتونو اغېز کوي.

**فرعي موخې**

1. د فعالو تدریسي میتودونو اغېز د زده‌کوونکو د علمي پوهې په لوړولو کې ارزول.
2. د فعالو تدریسي میتودونو اغېز د زده‌کوونکو په ښوونیزه ښکېلتیا او فعاله ګډون باندې معلومول.
3. د فعالو تدریسي میتودونو اغېز د زده‌کوونکو د ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ وړتیاوو په پراختیا کې ارزول.
4. د زده‌کوونکو او ښوونکو د نظریاتو له مخې د فعالو تدریسي میتودونو د موثریت او ستونزو تحلیل.

**د څېړنې پوښتنې**

**اصلي پوښتنه**: څنګه د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو زده‌کوونکو په پوهه، ښکېلتیا، او ټولنیزو مهارتونو اغېز کوي؟

**فرعي پوښتنې**

1. د فعالو تدریسي میتودونو کارول څنګه د زده‌کوونکو د علمي پوهې په لوړولو اغېز لري؟
2. د فعالو تدریسي میتودونو پلي کول د زده‌کوونکو په ښوونیزه ښکېلتیا او فعاله ګډون څه ډول اغېز لري؟
3. د فعالو تدریسي میتودونو کارونه د زده‌کوونکو د ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ وړتیاوو په پراختیا کې څنګه اغېز کوي؟

4. د زده‌کوونکو او ښوونکو د نظرونو له مخې، د فعالو تدريسي ميتودونو موثريت او ستونزې څه دي؟

**د متغيرونو پېژندنه**

د دې څېړنې د موضوع، موخو او څېړنيزو پوښتنو پر بنسټ، دوه اساسي متغيرونه په پام کې نيول شوي دي چې عبارت دي له فعال تدريسي ميتودونه او اصول صنفي څخه. د فعالې زده‌کړې اساسي ځانګړنه دا ده چې زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهير کې فعاله ونډه اخلي، بحث، پوښتنې، عملي فعاليتونه او متقابل تعامل ترسره کوي، نه دا چې يوازې د ښوونکي معلومات واوري او حفظ يې کړي. (Cambridge University Press, 2026).

**فعال تدريسي ميتودونه:** فعال تدريسي ميتودونه په دې څېړنه کې فعال تدريس هغه تدريسي کړنلارې رانغاړي چې زده‌کوونکي په مستقيم ډول د زده‌کړې په بهير کې ښکېلوي او هغوی ته د پوښتنې، بحث، ستونزې حل، عملي فعاليت او له نورو زده‌کوونکو سره د تعامل فرصت ورکوي. د OECD له مخې، فعالې زده‌کړې هغه تدريسي طريقې دي چې زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهير کې ښکېلوي او هغوی اړ باسي چې د زده‌کړې اړوند معنا لرونکي فعاليتونه ترسره او پر خپلې زده‌کړې فکر وکړي. (OECD, 2021).

په دې څېړنه کې د فعالو تدريسي ميتودونو د ارزونې لپاره لاندې اړخونه په پام کې نيول کېدای شي:

- د ګروپي کار او ګډې زده‌کړې ميتود؛
- د بحث او پوښتنې ـ ځواب ميتود؛
- د عملي فعاليتونو او تمرينونو کارول؛
- د ستونزې پر بنسټ زده‌کړه؛
- د زده‌کوونکو د ګډون او متقابل تعامل کچه؛
- د زده‌کوونکو د نظرياتو او پوښتنو ته پاملرنه؛

- د زده‌کوونکو د وړتیاوو او اړتیاوو مطابق د تدریسي فعالیتونو تنظیم .

د فعالې زده‌کړې په اړه سرچینې څرګندوي چې زده‌کوونکی په دې ډول تدریس کې یوازې د معلوماتو ترلاسه کوونکی نه وي، بلکې په پوښتنه، بحث، اړیکو جوړولو او د خپلو نظریاتو په رامنځته کولو کې فعاله ونډه اخلي .(Cambridge University Press, 2026)

**اصول صنفي:** اصول صنفي په دې څېړنه کې اصول صنفي هغو مقرراتو، کړنلارو او چلندیزو اصولو ته ویل کېږي چې د ټولګي د منظم چاپېریال، د زده‌کوونکو د مناسب چلند، د ښوونکي او زده‌کوونکو د متقابل درناوي او د تدریس د وخت د اغېزمن استعمال لپاره مراعاتېږي. د OECD د څېړنو له مخې، صنفي مدیریت هغه کړنې او جوړښتونه دي چې د ټولګي د منظم ساتلو، د زده‌کوونکو د پاملرنې او د تدریسي وخت د اغېزمن استعمال لپاره کارول کېږي؛ په دې کې د ټولګي د مقرراتو مراعات او د ګډوډۍ د مخنیوي لارې هم شاملې دي .(OECD, 2020)

په دې څېړنه کې د اصول صنفي د وضعیت د ارزونې لپاره لاندې اړخونه په پام کې نیول کېدای شي:

- ✓ د ټولګي د نظم او انضباط مراعات؛
- ✓ د ټولګي د مقرراتو رعایت؛
- ✓ د ښوونکي او زده‌کوونکو ترمنځ متقابل درناوی؛
- ✓ د زده‌کوونکو منظم ګډون؛
- ✓ د زده‌کوونکو د ګډوډۍ او نامناسب چلند مخنیوی؛
- ✓ د ښوونکي او زده‌کوونکو مناسب متقابل تعامل؛
- ✓ د درسي وخت منظم او اغېزمن استعمال .

د OECD د ښوونې او روزنې د څېړنو له مخې، اغېزمن صنفي مدیریت د دې سبب کېږي چې ښوونکي او زده‌کوونکي د زده‌کړې پر فعالیتونو تمرکز وکړي او درسي وخت په اغېزمن ډول وکارول

شي .(OECD, 2021) همدارنګه، مثبت ښوونکي ـ زده‌کوونکي تعامل، د صنفي نظم مراعات او د زده‌کوونکو ښکېلتیا د مناسبې زده‌کړيزې فضا له مهمو اړخونو څخه دي .(OECD, 2025)

## د څېړنې مخینه

په معاصر ښوونیز نظام کې د تدریس موخه یوازې زده‌کوونکو ته د معلوماتو لېږدول نه دي، بلکې د هغوی د فعال ګډون، فکري ودې، ټولنیزو مهارتونو او د ستونزو د حل وړتیاوو پیاوړتیا هم د اغېزمنې زده‌کړې مهمې برخې ګڼل کېږي. فعال تدریس زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهیر کې له اورېدونکي حالت څخه د فعال ګډون حالت ته راولي او د بحث، پوښتنې، ګډ کار، عملي فعالیتونو او متقابل تعامل له لارې د هغوی د زده‌کړې زمینه برابروي .(Fredriksen, 2025) څېړنې ښيي چې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو په علمي لاسته‌راوړنو، نوښتګرۍ او د ستونزو د حل په وړتیاوو کې مثبت رول لري.(Rahman, Ali, & Khan, 2021) په ځانګړې توګه، د ابتدائیه زده‌کوونکو لپاره د فعالو تدریسي میتودونو کارول ځانګړې اهمیت لري؛ ځکه په دې پړاو کې زده‌کوونکي د عملي تجربو، ټولنیز تعامل، پوښتنې، بحث او ګډو فعالیتونو له لارې په اغېزمنه توګه زده‌کړه کوي. په افریقا او جنوبي اسیا کې ترسره شوې څېړنې ښيي چې د ګروپي فعالیتونو، عملي تجربو او صنفي بحثونو کارول د زده‌کوونکو د ټولنیزو مهارتونو، همکارۍ او په زده‌کړه کې د ګډون کچه لوړوي.(Dawed & Omer, 2019) د فعالو تدریسي میتودونو اغېز یوازې د زده‌کوونکو پر علمي پرمختګ محدود نه دی، بلکې د ټولګي پر نظم او د اصول صنفي پر مراعات هم اغېز کولی شي. کله چې زده‌کوونکي په درسي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي، له خپلو ټولګیوالو سره تعامل وکړي او د درس په بهیر کې د بحث او عملي فعالیتونو له لارې ښکېل شي، د ټولګي د نظم، متقابل درناوي، همکارۍ او مسؤلیت‌پذیرۍ لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کېږي. له همدې امله، فعال تدریس او اصول صنفي د اغېزمنې زده‌کړې د چاپېریال دوه له یو بل سره تړلي اړخونه بلل کېدای شي.

په افغانستان کې هم د ښوونې او روزنې د کیفیت د لوړولو په برخه کې د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو، د نوو تدریسي میتودونو د کارونې او د زده‌کوونکو د فعال ګډون موضوع ځانګړې اهمیت لري. ځینې ترسره شوې څېړنې ښيي چې د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت او له نوو تدریسي میتودونو

سره محدوده بلدتیا کولای شي د زده‌کوونکو فعال ګډون او د زده‌کړې کیفیت اغېزمن کړي (احمدزی، ۱۴۰۲). له همدې امله، د فعالو تدریسي میتودونو پېژندنه او په ټولګي کې یې مناسبه کارونه د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو او د زده‌کوونکو د زده‌کړېزو فعالیتونو د پیاوړتیا لپاره مهمه ده. همدارنګه، Shrestha and Bajracharya (2020) په خپله څېړنه کې څرګندوي چې د فعال تدریس کارول د زده‌کوونکو د ستونزو د حل وړتیا پیاوړې کوي، د زده‌کړې چاپېریال جذابوي او د ښوونکو د تدریسي مهارتونو د ودې لپاره زمینه برابروي. دا ډول تدریسي لارې په ځانګړې توګه هغه مهال اغېزمنې تمامېږي چې د ټولګي له اصولو، د زده‌کوونکو له اړتیاوو او د هغوی له عمرني او درسي ځانګړتیاوو سره متناسبې وکارول شي.

سره له دې چې د فعالو تدریسي میتودونو او صنفي نظم په اړه په نړیواله او سیمه‌ییزه کچه بېلابېلې څېړنې ترسره شوې دي، خو د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو په ځانګړي ښوونیز چاپېریال کې د فعالو تدریسي میتودونو او اصول صنفي ترمنځ د اړیکې او اغېز په اړه د منظمې څېړنې اړتیا لیدل کېږي. له همدې امله، اوسنۍ څېړنه هڅه کوي چې په موسهي ولسوالۍ کې د ابتدائیه ښوونځیو پر زده‌کوونکو د اصول صنفي په رعایت او تطبیق کې د فعالو تدریسي میتودونو اغېز وڅېړي او معلومه کړي چې د دغو میتودونو کارونه تر کومې کچې د ټولګي د نظم، د زده‌کوونکو د ګډون، متقابل تعامل او د زده‌کړې د مناسب چاپېریال په رامنځته کولو کې رول لري. د څېړنې پایلې به د ښوونکو، ښوونځیو د ادارو او د ښوونې او روزنې اړوندو مسؤلینو لپاره د فعالو تدریسي میتودونو د لا اغېزمنې کارونې په برخه کې ګټورې معلومات وړاندې کړي.

**د څېړنې نظرې بنسټ**

د هرې علمي څېړنې لپاره نظری بنسټ د څېړنې د اساسي مفاهیمو، متغیرونو او د هغوی ترمنځ د اړیکو د روښانتیا لپاره مهم رول لري. د دې څېړنې نظری بنسټ د فعالې زده‌کړې نظریې، ټولنیز جوړښت‌پالنې نظریې او د ټولګي د مدیریت نظریې پر بنسټ ولاړ دی. دغه نظری بنسټ هڅه کوي چې د فعالو تدریسي میتودونو رول او اغېز د زده‌کوونکو په فعال ګډون، متقابل تعامل، همکارۍ، د زده‌کړې په بهیر او د اصول صنفي په مراعات کې تشریح کړي.

**د فعالې زده‌کړې نظریه:** ټینګار کوي چې زده‌کوونکي باید یوازې د ښوونکي د معلوماتو ترلاسه کوونکي نه وي، بلکې د بحث، پوښتنې ـ ځواب، ګروپي کار، عملي فعالیتونو او ستونزو د حل له لارې په مستقیم ډول د زده‌کړې په بهیر کې ګډون وکړي. د دې نظریې له مخې، کله چې زده‌کوونکي په درسي فعالیتونو کې فعاله ونډه واخلي، د هغوی د پوهې د ترلاسه کولو، فکري ودې، ستونزو د حل او د زده‌کړې د محتوا د درک زمینه پیاوړې کېږي .(Arjomandi, 2018) له همدې امله، په دې څېړنه کې فعال تدریسي میتودونه د خپلواک متغیر په توګه په پام کې نیول شوي دي.

همدارنګه، **د ټولنیز جوړښت‌پالنې نظریه:** چې له ویګوټسکي سره تړاو لري، پر دې ټینګار کوي چې زده‌کړه یوازې د فردي هڅې پایله نه ده، بلکې د زده‌کوونکو ترمنځ د متقابل تعامل، همکارۍ، خبرو اترو او د ښوونکي د لارښوونې له لارې هم رامنځته کېږي. د دې نظریې له مخې، ټولګی د زده‌کړې یو ټولنیز چاپېریال دی چې زده‌کوونکي پکې د خپلو ټولګیوالو او ښوونکي له تعامل څخه د پوهې او مهارتونو په جوړولو کې ګډه اخلي .(Grijpma, 2024) له همدې امله، ګروپي فعالیتونه، بحثونه، ګډې دندې او متقابلې زده‌کړې د فعال تدریس مهم عناصر ګڼل کېږي.

له بلې خوا، **د ټولګي د مدیریت نظریه:** د منظم، سالم او زده‌کړیز چاپېریال پر رامنځته کولو ټینګار کوي. د دې نظریې له مخې، د ټولګي منظم مدیریت، د صنفي اصولو روښانه کول، د زده‌کوونکو د مناسب چلند پیاوړتیا، د درسي وخت اغېزمن استعمال او د ښوونکي او زده‌کوونکو ترمنځ مناسب تعامل د اغېزمن تدریس مهم عناصر دي. د ټولګي د مدیریت مناسبې لارې کولای شي د ګډوډۍ کچه راکمه او زده‌کوونکو ته داسې چاپېریال برابر کړي چې په هغه کې په فعاله توګه زده‌کړه وکړي.

**د پوهنیزو او ټولنیزو مهارتونو د پراختیا نظریه:** هم د دې څېړنې لپاره مهمه ده؛ ځکه فعال تدریس زده‌کوونکو ته فرصت ورکوي چې د ستونزو د حل، همکارۍ، اړیکو، انتقادي فکر او نوښت په څېر مهارتونه پیاوړي کړي .(Alhawiti, 2023) په ځانګړې توګه، کله چې زده‌کوونکي په ګروپي فعالیتونو، بحثونو او عملي تمرینونو کې ګډون کوي، د متقابل درناوي، همکارۍ، مسؤلیت‌پذیرۍ او د ټولګي د اصولو د مراعات کولو زمینه هم پیاوړې کېږي.

د دې نظري بنسټ له مخې، د څېړنې مهم مفاهیم عبارت دي له: فعال تدریس، د زده‌کوونکو فعاله ښکېلتیا، ګروپي کار، بحث او متقابل تعامل، ستونزې حل کول، د ټولګي نظم، د صنفي اصولو

مراعات، د ښوونکي او زده‌کوونکو اړیکې او د زده‌کړې مناسب چاپېریال .فعال تدریسي میتودونه له زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې د درس په بهیر کې فعاله ونډه واخلي، له خپلو ټولګیوالو سره همکاري وکړي او د ټولګي له اصولو سره سم خپل درسي فعالیتونه ترسره کړي.

په پایله کې، د دې څېړنې نظریاتي چوکاټ پر هغو نظریو ولاړ دی چې فعال ګډون، متقابل تعامل، همکاري، د زده‌کوونکو د مهارتونو پراختیا او د ټولګي منظم مدیریت د اغېزمنې زده‌کړې مهم عناصر ګڼي. له همدې نظری بنسټ څخه په استفادې، څېړنه هڅه کوي چې په علمي ډول وڅېړي چې د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو په ټولګیو کې فعال تدریسي میتودونه د اصول صنفي پر مراعات، د زده‌کوونکو پر ګډون، متقابل تعامل او د منظم زده‌کړیز چاپېریال پر رامنځته کېدو څه ډول اغېز لري.

## د څېړنې میتود لوژي

دا څېړنه د هدف له نظره کاربردي (عملي) او د میتود له نظره توصیفي ـ پیمایشي ده. د دې څېړنې اساسي موخه دا ده چې د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو پر زده‌کوونکو د اصول صنفي د فعالو تدریسي میتودونو اغېزې وڅېړل شي او معلومه شي چې فعال تدریسي میتودونه د زده‌کوونکو په فعاله ښکېلتیا، د ټولګي په نظم، د اصول صنفي په مراعات، متقابل تعامل او د زده‌کړې په چاپېریال کې تر کومې کچې اغېز لري.

د معلوماتو د راټولولو لپاره د څېړونکي له خوا جوړ شوی معیاري پوښتنلیک کارول شوی، چې د څېړنې د موضوع او متغیرونو له مخې ترتیب او د اړوندو متخصصینو له نظرونو وروسته اصلاح شوی دی. پوښتنلیک د ساحوي سروې له لارې د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو له اړوندو ښوونکو او یا د څېړنې له ټاکل شوې احصائیوي ټولنې څخه راټول شوی دی. ترلاسه شوي معلومات د احصائیوي میتودونو په وسیله تحلیل شوي، ترڅو د فعالو تدریسي میتودونو او اصول صنفي ترمنځ اړیکه او اغېز په علمي او منظم ډول څرګند شي.

**احصایوي ټولنه (جامعه آماري)**

په دې څېړنه کې احصائیوي ټولنه د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو له ټولو هغو ښوونکو څخه جوړه شوې ده او ټول شمېر یې ۵۰ تنه و. د احصائیوي ټولنې د کم حجم له امله، د نمونې د ټاکلو لپاره د سرشمېرنې میتود څخه استفاده شوې ده؛ یعنې د ټولنې ټول غړي د څېړنې په نمونه کې شامل شوي دي. د معلوماتو د راټولولو په موخه د څېړنې پوښتنلیک د ټولنې ټولو ۵۰ ښوونکو ته وېشل شوی، چې له ډلې څخه ټولو ۴۵ تنو پوښتنلیکونه بشپړ او بېرته سپارلي دي. له همدې امله، د پوښتنلیکونو د بېرته ترلاسه کولو کچه ۹۰ سلنه ده. د ټولو پوښتنلیکونو بشپړ بېرته ترلاسه کېدل د دې سبب شوي چې د احصائیوي ټولنې ټول غړي په څېړنه کې استازیتوب ولري او د نمونې د نه‌ځواب ویلو ستونزه رامنځته نه شي.

**د معلوماتو د راټولولو وسیله**

د معلوماتو راټولولو لپاره د څېړونکي لخوا جوړ کړی پوښتنلیک څخه کار اخیستل شوې چې د نظریاتو، تیوریو او مخکنیو څېړنو پر بنسټ طرحه شوې ده دا پوښتنلیک د ددندې څخه د خوښې بېلابېل اړخونه رانغاړي. د پوښتنلیک روایي(اعتبار)د ښوونې او روزنې او مدیریت د متخصصینو لخوا تأیید شوې ده. د پوښتنلیک پایایي(ثبات او اعتبار)د الفای کرونباخ د ضریب له لارې اندازه شوې چې ارزښت یې ۰،۸۷ وواو دا ښیي چې پوښتنلیک معتبر او د باور وړ دی. دا پوښتنلیکونه مستقیماً او په حضوري بڼه د ګډونوالو ترمنځ ویشل شوي.

**د ګډونوالو احصایوي ځانګړتیاوې**

**جنسیت:** د ټولو ۴۵ ګډونوالو جنسیت نارینه وو یعنې ټول ګډونوال سړي(نارینه)وو.

**موقف:** د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو موقفونه په څلورو ډلو ویشل شوي دي. اکثریت ګډونوال، یعنې ۳۳ تنه یا ٦٦سلنه، د ښوونکي په موقف کې فعالیت کوي. دا ښیي چې د ښوونې او روزنې د مستقیمې تطبیق لویه برخه د ښوونکو په غاړه ده. د سرښوونکو شمیر ۷ تنه، چې ۱۴سلنه جوړوي، د ښوونکو د فعالیتونو څارنه او لارښوونه کوي. د مدیرانو او آمرانو شمیر هر یو ۵ تنه، یعنې ۱۰سلنه، دی. دغه ډلې د ښوونیز پلان په تطبیق کې د ستراتیژیکو تصمیمونو او ادارتي ملاتړ مسؤلیت لري.

په ټولیزه توګه جدول ښيي چې د ښوونې اکثریت مسئولیت ښوونکو ته ورکړل شوی، پداسې حال




کې چې سرښوونکي، مدیران او آمران د پلان په ښه تطبیق کې د ملاتړ او څارنې مهم رول لري. دا ترکیب د ښوونیز پلان د اغېزمنتوب لپاره متوازن جوړښت وړاندې کوي.

انځور کاري موقف ښيي.

**کاري مخینه:** د موسهي ولسوالۍ د ښوونکو کاري تجربه په څلورو کټګوریو ویشل شوې ده. د ۱–۵ کاله تجربه لرونکي ښوونکي په اکثریت کې دي، چې ۳۳ تنه يې د ګډونوالو ۶۶سلنه جوړوي. دا ښيي چې اکثریت ښوونکي نسبتاً لږه تجربه لري، او په ښوونیز پلان جوړونه کې د نوښت او ټکنالوژۍ د کارونې په برخه کې ممکن محدود تجربه ولري. د ۶–۱۰ کاله تجربه لرونکي ښوونکي يوازې ۴ تنه، یا ۸سلنه دي، چې لږه برخه جوړوي. د ۱۱–۱۶ کاله تجربه لرونکي ښوونکي ۵ تنه، یا ۱۰سلنه دي، او د ۱۷–۲۵ کاله تجربه لرونکي ښوونکي ۸ تنه، یا ۱۶سلنه دي. دا منځنۍ او اوږده تجربه لرونکي ښوونکي د ښوونې کیفیت او د پلان په تطبیق کې مثبت رول لوبولی شي. په ټولیزه توګه د ښوونکو اکثریت لږه تجربه لري، خو د منځنۍ او اوږدې تجربې لرونکو ښوونکو شتون د ښوونیز پلان د اغېزمنتوب د لوړولو لپاره زمینه برابروي.




(۲) انځور کاري مخینه ښيي.

**د پوښتنلیک د اصلي او فرعي پوښتنو ارزونه**

د څېړني موندني د اصلي او فرعي پوښتنو پر اساس په لاندې ډول تحلیل کېږي:

**اصلي پوښتنه:** څنګه د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د موسهي ولسوالی د ابتدائیه ښوونځیو زده‌کوونکو په پوهه، ښکیلتیا، او ټولنیزو مهارتونو اغېز کوي؟

**لومړی فرعي پوښتنه:** د فعالو تدریسي میتودونو کارول څنګه د زده‌کوونکو د علمي پوهې په لوړولو اغېز لري؟د معلوماتو تحلیل ښیي چې د موسهي ولسوالۍ په لیسو کې د ابتدایي ښوونځیو لپاره د اصولي صنفي فعالو تدریسي میتودونو تطبیق کیفیت په لوړ کچه دی. د دې متغیر منځنی ارزښت ۴,۱۲ دی، چې له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ دی، او دا څرګندوي چې ګډونوالو په دې برخه کې مثبته تجربه لري او د تدریسي میتودونو تطبیق اغېزناک ګڼي. معیاري انحراف د ۰,۸۸ په حدودو کې دی، چې دا ښیي د ګډونوالو نظرونه په دې برخه کې نسبتاً نږدې دي او پراخه توپیر نه لري. په ټوله کې، پایله دا ده چې د اصولي صنفي فعالو تدریسي میتودونو تطبیق کیفیت د زده‌کوونکو د ښکیلتیا او د زده‌کړې د ښه والي لپاره مهم او اغېزناک دی.

| متغیر | منځنۍ | معیاری انحراف |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| د اصول صنفی فعالوتدریسی میتودونو د تطبیق کیفیت | ۴,۱۲ | ۸۸.۰ |

**دویمه فرعي پوښتنه:** د فعالو تدریسي میتودونو پلي کول د زده‌کوونکو په ښوونیزه ښکېلتیا او فعاله ګډون څه ډول اغېز لري؟ د معلوماتو تحلیل ښیي چې د موسهي ولسوالۍ په لیسو کې د ابتدایي ښوونځیو زده‌کوونکي په صنفي فعالیتونو کې د ښکیلتیا او ګډون په برخه کې مثبت چلند لري. د دې متغیر منځنی ارزښت ۴,۰۵ دی، چې له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ دی، او دا څرګندوي چې زده‌کوونکي په تدریسي پروسو کې فعاله برخه اخلي او د درسونو په جریان کې ښکیلتیا لري. معیاري انحراف د ۰,۹۲ په حدودو کې دی چې دا ښیي د ګډونوالو نظرونه په دې برخه کې نسبتاً نږدې دي او پراخه توپیر نه لري. په ټوله کې، پایله دا ده چې د زده‌کوونکو ښکیلتیا او ګډون د اصولي صنفي فعالو تدریسي میتودونو د تطبیق په اغېزمنتیا کې مهم رول لري او د زده‌کړې په کیفیت کې مثبت اغېز لري.

| متغیر | منځنی | معیاری انحراف |
|---|---|---|
| د زده کوونکو ښکیلتیا او ګډون | ۰۵.۴ | ۰,۹۲ |

**دریمه فرعي پوښتنه:** د فعالو تدریسي میتودونو کارونه د زده‌کوونکو د ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ وړتیاوو په پراختیا کې څنګه اغېز کوي؟ د معلوماتو تحلیل ښیي چې د موسهي ولسوالۍ په لیسو کې د ابتدایي ښوونځیو ښوونکي د تدریسي مهارتونو او وړتیاوو له مخې لوړ کچې لري. د دې متغیر منځنی ارزښت ۴,۱۵ دی، چې له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ دی، او دا څرګندوي چې ښوونکي په تدریسي پروسو کې وړتیا لري او د زده‌کوونکو د زده‌کړې په ښه والي کې فعاله برخه اخلي. معیاري انحراف د ۰,۸۷ په حدودو کې دی، چې دا ښیي د ګډونوالو نظرونه په دې برخه کې نسبتاً نږدې دي او پراخه توپیر نه لري. په ټوله کې، پایله دا ده چې د ښوونکو وړتیا او تدریسي مهارتونه د اصولي صنفي فعالو تدریسي میتودونو د اغېزمنتیا په لوړولو کې مهم رول لري او د زده‌کړې کیفیت ته مثبت اغېز رسوي.

| متغیر | منځنی | معیاری انحراف |
|---|---|---|
| د ښوونکو وړتیا او تدریسی مهارتونه | ۱۵.۴ | ۸۷.۰ |

**څلورمه فرعي پوښتنه:** د زده‌کوونکو او ښوونکو د نظرونو له مخې، د فعالو تدریسي میتودونو موثریت او ستونزې څه دي؟ د معلوماتو پر بنسټ، د موسهي ولسوالۍ په لیسو کې د ابتدایي ښوونځیو د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت د اصولي صنفي فعالو تدریسي میتودونو له تطبیق سره مثبت اغیز ښيي. د دې متغیر منځنی ارزښت ۴,۱۰ دی، چې له منځنی نمرې ۳ څخه لوړ دی، او دا څرګندوي چې د تدریسي میتودونو عملي کول د زده‌کوونکو د زده‌کړې په ښه والي کې اغېزناک دي. معیاري انحراف د ۰,۹۰ په حدودو کې دی چې د ګډونوالو نظرونه په دې برخه کې نسبتاً نږدې دي او پراخه توپیر نه لري. په ټوله کې، پایله دا ده چې د زده‌کوونکو د زده‌کړې کیفیت د اصولي صنفي فعالو تدریسي میتودونو په مرسته لوړ شوی او دا تدریسي میتودونه په عملي توګه اغېزناک بلل شوي.

| متغیر | منځنی | معیاری انحراف |
|---|---|---|
| د زده کوونکو د زده کړی پر کیفیت اغیز | ۱۰.۴ | ۰,۹۰ |

**مناقشه**

د دې څېړنې د میداني معلوماتو تحلیل څرګندوي چې د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو په کچه د صنفي اصولو پر بنسټ د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د علمي پوهې، ښوونیزې ښکېلتیا، فعاله ګډون، ټولنیزو مهارتونو، همکارۍ او د زده‌کړې د کیفیت په برخه کې مثبت رول لري. د څېړنې پایلې ښيي چې فعال تدریسي میتودونه زده‌کوونکو ته د درس په بهیر کې د فعاله ګډون، د نظریاتو د څرګندولو، پوښتنې او ځواب، ډله‌ییز کار او عملي فعالیتونو فرصتونه برابروي. دغه ډول تدریس د زده‌کوونکو د زده‌کړې بهیر له دودیز حالت څخه فعال حالت ته اړوي او د صنفي فعالیتونو د ښه تنظیم لپاره زمینه برابروي.

د څېړنې موندنې څرګندوي چې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د علمي پوهې په لوړولو کې هم مثبت اغېز لري. د لومړي فرعي پوښتنې د پایلو له مخې، د دې برخې منځنی ارزښت (SD=0.88 ،M=4.12) ترلاسه شوی، چې د پنځه‌درجه‌ییز لیکرټ مقیاس له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ دی. دا پایله څرګندوي چې د ګډونوالو له نظره فعال تدریس د زده‌کوونکو د علمي پوهې، د موضوعاتو د ښه درک او زده‌کړېزو وړتیاوو د لوړولو لپاره اغېزمنه وسیله ده. فعال تدریسي میتودونه زده‌کوونکي د درس په بهیر کې ښکېلوي، هغوی ته د پوښتنو د مطرح کولو، د نظریاتو د څرګندولو او د عملي فعالیتونو د ترسره کولو فرصت ورکوي. دغه موندنه د احمدزي (۱۴۰۲)، کریمي (۱۴۰۱) او Rahman ، Aliاو Khan (2021) د څېړنو له پایلو سره همغږې لري، چې د فعال تدریس د علمي لاسته راوړنو او زده‌کړېزو فعالیتونو د لوړولو په برخه کې یې مثبت رول څرګند کړی دی.

د څېړنې موندنې همدارنګه ښیي چې فعال تدریسي میتودونه د زده‌کوونکو په ښوونیزه ښکېلتیا او فعاله ګډون کې مهم رول لري. د دویمې فرعي پوښتنې له مخې، د دې برخې منځنی ارزښت (SD=0.92 ،M=4.05) دی، چې له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ دی. دا پایله څرګندوي چې د ګروپي فعالیتونو، صنفي بحثونو، پوښتنې او ځواب او مشارکتي زده‌کړې کارول زده‌کوونکي هڅوي چې په تدریسي بهیر کې فعاله ونډه واخلي. کله چې زده‌کوونکي په عملي او ډله‌ییزو فعالیتونو کې شامل شي، د درس له موضوع سره یې اړیکه پیاوړې کېږي او د زده‌کړې په بهیر کې د هغوی ګډون زیاتېږي. دغه موندنه د Fredriksen (2025)، Grijpma (2024) او Dawed او Omer (2019) له څېړنو سره مطابقت لري، چې د فعالو او مشارکتي تدریسي طریقو اهمیت یې د زده‌کوونکو د ښکېلتیا، فعاله ګډون او متقابل تعامل په پیاوړتیا کې څرګند کړی دی.

د څېړنې پایلې څرګندوي چې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ د وړتیاوو په پراختیا کې هم اغېزناک دي. د درېیمې فرعي پوښتنې د پایلو له مخې، د دې برخې منځنی ارزښت (SD=0.87 ،M=4.15) دی. دغه پایله ښیي چې فعال تدریس زده‌کوونکو ته د ګډ کار، د نظریاتو د شریکولو، د ستونزو د ګډ حل او له یو بل سره د متقابل تعامل فرصتونه برابروي. د دغو فعالیتونو له لارې زده‌کوونکي د همکارۍ، متقابل درناوي، اړیکو او ټولنیز تعامل مهارتونه پیاوړي کوي. په دې برخه کې د ښوونکي تدریسي وړتیا او د فعالو میتودونو د کارونې مهارت هم مهم رول لري؛ ځکه چې د فعال تدریس اغېزمن تطبیق د ښوونکي له پلان جوړونې،

صنفي مدیریت او د زده‌کوونکو د ګډون له تنظیم سره مستقیم تړاو لري. دغه موندنه د سلطاني (۱۴۰۱) او Shrestha او Bajracharya (2020) د څېړنو له پایلو سره همغږي لري، چې فعال تدریس یې د اړیکو، همکارۍ او ګډ کار د فرهنګ د پیاوړتیا لپاره اغېزمن بللی دی.

د څېړنې موندنې همدارنګه ښکاره کوي چې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کوونکو د زده‌کړې د کیفیت په ښه والي کې مثبت اغېز لري. د څلورمې فرعي پوښتنې د پایلو له مخې، د دې برخې منځنی ارزښت (M=4.10، SD=0.90) دی. دغه ارزښت له منځنۍ نمرې ۳ څخه لوړ دی او ښکاره کوي چې ګډونوال د زده‌کوونکو د زده‌کړې پر کیفیت د فعالو تدریسي میتودونو اغېز مثبت ارزوي. فعال تدریسي میتودونه زده‌کوونکي د درس په بهیر کې فعال ساتي، د موضوعاتو د ښه درک زمینه برابروي او د زده‌کړې عملي اړخ پیاوړی کوي. دغه موندنه د احمدزي (۱۴۰۲) او Rahmanاو همکارانو (2021) له څېړنو سره همغږي لري، چې د فعال تدریس د کارونې له امله یې د زده‌کړې د کیفیت او زده‌کوونکو د علمي فعالیتونو د ښه والي یادونه کړې ده.

د څېړنې پایلې ښکاره کوي چې سره له دې، د فعالو تدریسي میتودونو د بشپړ او اغېزمن تطبیق پر وړاندې ځینې ستونزې هم شتون لري. د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت، د تدریسي وسایلو محدودیت، د وخت نشتوالی، د مناسب صنفي چاپېریال کمښت او د فعالو تدریسي میتودونو په برخه کې د ځینو ښوونکو د تجربې او مهارت محدودیت هغه عوامل دي چې د دغو میتودونو د اغېزمنتیا کچه محدودولای شي. له همدې امله، د فعال تدریس د بریالي تطبیق لپاره د ښوونکو مسلکي روزنه، د مناسبو تدریسي امکاناتو برابرول، د ښوونیزو وسایلو پراختیا او د ښوونکو لپاره دوامداره مسلکي ملاتړ اړین دي. د څېړنې موندنې همدارنګه ښکاره کوي چې د صنفي اصولو مراعات او فعال تدریس یو له بل سره نږدې اړیکه لري. هغه صنفي چاپېریال چې پکې زده‌کوونکي د درس په بهیر کې فعاله ونډه اخلي، له یو بل سره همکاري کوي او د ښوونکي له لارښوونو سره سم په فعالیتونو کې ګډون کوي، د صنفي نظم، متقابل درناوي او د صنفي اصولو د رعایت لپاره مناسبه زمینه برابروي. له همدې امله، فعال تدریسي میتودونه یوازې د علمي زده‌کړې د ښه والي وسیله نه ده، بلکې د مناسب صنفي چاپېریال او د زده‌کوونکو د مثبتو چلندونو په رامنځته کولو کې هم مرسته کوي.

په تولیز ډول، د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د موسهي ولسوالۍ په ابتدائیه ښوونځیو کې د زده‌کوونکو د علمي پوهې د لوړولو، ښوونیزې ښکېلتیا او فعاله ګډون د زیاتولو، ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ د پیاوړتیا او د زده‌کړې د کیفیت د ښه والي لپاره اغېزمنه تدریسي تګلاره ده. د څېړنې موندنې د احمدزي (۱۴۰۲)، کریمي (۱۴۰۱)، سلطاني (۱۴۰۱)، Rahman، Ali او Khan (2021) ، Fredriksen (2025)، Grijpma (2024)، Dawed او Omer (2019) او Shrestha او Bajracharya (2020) له یادو شویو څېړنو سره په عمومي ډول همغږې لري. له همدې امله، د ښوونکو د مسلکي وړتیاوو لوړول، د فعالو تدریسي میتودونو په برخه کې د هغوی روزنه، د مناسبو تدریسي امکاناتو برابرول او د زده‌کوونکو د فعال ګډون لپاره د مناسب صنفي چاپېریال رامنځته کول د ښوونې او روزنې د کیفیت د لا ښه والي لپاره اړین اقدامات ګڼل کېږي.

**پایله**

د دې څېړنې موخه دا وه چې د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو په کچه د صنفي اصولو پر بنسټ د فعالو تدریسي میتودونو اغېز د زده‌کوونکو پر علمي پوهه، ښوونیزه ښکېلتیا، ټولنیزو مهارتونو او د زده‌کړې پر کیفیت وڅېړي. د راټولو شویو معلوماتو تحلیل څرګندوي چې د فعالو تدریسي میتودونو کارول د زده‌کړې په بهیر کې د پام وړ مثبت اغېز لري.

د څېړنې موندنو وښودله چې د فعالو تدریسي میتودونو د تطبیق کیفیت لوړ و، ځکه د دې متغیر منځنی ارزښت (٤,١٢) ثبت شوی چې دا د زده‌کوونکو د علمي پوهې په لوړولو کې د دغو میتودونو اغېزمنتیا څرګندوي. همدارنګه، د زده‌کوونکو د ښوونیزې ښکېلتیا او فعال ګډون منځنی ارزښت (٤,٠٥) و، چې ښیي فعال تدریس زده‌کوونکي د تدریس په بهیر کې په اغېزمن ډول ګډون ته هڅوي. د څېړنې پایلو دا هم څرګنده کړه چې د ښوونکو تدریسي وړتیا او د فعالو تدریسي میتودونو د پلي کولو مهارت د زده‌کوونکو د ټولنیزو مهارتونو او همکارۍ په پراختیا کې مهم رول لري ځکه د دې متغیر منځنی ارزښت (٤,١٥) ترلاسه شوی دی. سربېره پر دې د زده‌کوونکو د زده‌کړې پر کیفیت د فعالو تدریسي میتودونو اغېز هم مثبت ارزول شوی چې د دې شاخص منځنی ارزښت (٤,١٠) ثبت شوی دی. د مرکو مشاهدې او پوښتنلیکونو پایلې په ګډه څرګندوي چې ګروپي

فعالیتونه، صنفي بحثونه، عملي تمرینونه او د ستونزو د حل فعالیتونه د زده‌کوونکو د علمي لاسته راوړنو، نوښت، همکارۍ، ځان باور او ټولنیزو اړیکو په پیاوړتیا کې اغېزناک رول لري. په ورته وخت کې، څېړنې څرګنده کړه چې د ښوونکو د مسلکي روزنې کمښت، د تدریسي وسایلو محدودیت او د وخت نشتوالی د فعالو تدریسي میتودونو د بشپړ تطبیق پر وړاندې مهمې ننګونې دي. په ټولیز ډول د دې څېړنې پایلې څرګندوي چې د صنفي اصولو پر بنسټ فعال تدریس د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو د زده‌کوونکو د علمي پرمختګ، ښوونیزې ښکېلتیا، ټولنیزو مهارتونو او د زده‌کړې د کیفیت د لوړولو لپاره یو اغېزناک تدریسي میتود دی. له همدې امله سپارښتنه کېږي چې د ښوونکو لپاره د فعالو تدریسي میتودونو په اړه دوامدارې مسلکي روزنې برابرې شي، ښوونځي په اړینو تدریسي امکاناتو سمبال شي او د پوهنې اړوند ادارې د فعال تدریس د پراختیا لپاره عملي پالیسۍ او ملاتړ پیاوړی کړي، ترڅو د ښوونې او روزنې کیفیت لا لوړ شي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو د تدریس کیفیت د ښه والي او د فعالو تدریسي میتودونو د اغېزمن پلي کېدو لپاره لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

۱. د ښوونکو مسلکي روزنه.

۲. مناسب تدریسي مواد او منابع.

۳. د ټولګي چاپېریال ښه کول.

۴. د زده‌کوونکو هڅونه.

۵. د څېړنې دوام او ارزونه.

د دې څېړنې د موندنو پر بنسټ، د پورته وړاندیزونو عملي کول کولای شي د موسهي ولسوالۍ د ابتدائیه ښوونځیو د تدریس کیفیت د ښه والي، د فعالو تدریسي میتودونو د اغېزمن پلي کېدو او د زده‌کوونکو د علمي او ټولنیزو وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره اغېزناک تمام شي. همدارنګه، د ښوونکو، ښوونځیو د ادارو او د پوهنې وزارت ګډه همکاري د دغو وړاندیزونو د بریالي تطبیق لپاره اړینه ده،

ترخو د ښوونې او روزنې په نظام کې دوامداره پرمختګ او د زده‌کړې د کیفیت لوړوالی تضمین شي.

## منابع


احمدزی، فرید. (۱۴۰۲). د ابتداییه ښوونې د فعالو میتودونو اغېزې .کابل: ملي تعلیمي څېړنیز مرکز.

کریمی، سعید. (۱۴۰۱). روش‌های یادگیری فعال در مکاتب ابتدایی افغانستان. مجله تعلیم و تربیت، ۱۱(۲)، ۵۰–٦٧.

سلطانی، حمید. (۱۴۰۱). اجرای روش‌های فعال تدریس مبتنی بر صنف درس. مجله نوآوری‌های آموزشی، (۳)، ۴۰–۵۵.

Alhawiti, N. M. (2023). The influence of active learning on the development of generic skills in undergraduate students. *PMC*.

Arjomandi, A. (2018). Active teaching strategies and student engagement. *ERIC*.

Cambridge University Press. (2026). Active learning. *Cambridge Dictionary*.

Dawed, S., & Omer, M. (2019). Implementation of active learning methods in primary schools in South Wollo Zone, Ethiopia. *International Journal of Innovative Science and Research Technology*.

Fredriksen, P. M., Bjerva, T., & Mamen, A. (2025). The effect of active learning on academic performance in a Norwegian primary school setting–the Health Oriented Pedagogical Project (HOPP). *Frontiers in Education, 10*, 1562387. https://doi.org/10.3389/feduc.2025.1562387.

Freeman, S., Eddy, S. L., McDonough, M., Smith, M. K., Okoroafor, N., Jordt, H., & Wenderoth, M. P. (2014). Active learning increases student performance in science, engineering, and mathematics. *Proceedings of the National Academy of Sciences, 111*(23), 8410–8415. https://doi.org/10.1073/pnas.1319030111

Grijpma, J. W., Ramdas, S., Broeksma, L., Meeter, M., Kusurkar, R. A., & de la Croix, A. (2024). Learning from the experts: Stimulating student engagement in small-group active learning. *Perspectives on Medical Education, 13*(1), 229–238. https://doi.org/10.5334/pme.1245.

Michael, J. (2006). Where's the evidence that active learning works? *Advances in Physiology Education, 30*(4), 159–167. https://doi.org/10.1152/advan.00053.2006

OECD. (2021a). *Global teaching insights: A video study of teaching*. OECD Publishing.

OECD. (2021b). *Preparing teachers and school leaders as expert professionals: Teachers getting the best out of their students*. OECD Publishing.

OECD. (2021c). *Teachers and leaders in vocational education and training: Promoting innovative pedagogical approaches*. OECD Publishing.

OECD. (2025). *Teacher support for student learning*. OECD Publishing.

Prince, M. (2004). Does active learning work? A review of the research. *Journal of Engineering Education, 93*(3), 223–231. https://doi.org/10.1002/j.2168-9830.2004.tb00809.x.

Rahman, F., Ali, S., & Khan, M. (2021). Impact of active teaching methods on primary school students' learning outcomes in rural areas. *International Journal of Educational Development, 82*, 102403.

Shrestha, P., & Bajracharya, R. (2020). The effect of active classroom strategies on student performance: A global perspective. *Journal of Education and Learning, 9*(5), 15–32.